# ځما دکال (2020) دشعرى تولګه يوه برخه

## کوچيانى

ښکلي رمنده سترګي د هغى کوچيانى
و مى ليد ولاړه وه په مخه د کيږدى
لاس يي په نکريزو سترګي تور په کاجل
غاړه کى اميل وه محجوب سترګي دهوسى
له شرم وحيا ونه کتل هغى ځما خواته
مخ واړوه شا ته خپل بيا هغى ګلالى
ها مي د لبر نشو د«مل» هيلي تر سرنشو
بيا مى مخي ونه ليد دهغي کوچيانى

**** کريفلد جرمنى 2020-03-14

## دجمعى شپه دي

ځان دى کړه سينګار بيګاه بيا دجمعي شپه دي
په يا د دى خپل سا ته چي نژدى يى نيټه دي
وربل ته دى ما هم له ګلزاره ګل راوړي
وربل کى دى تومبمه دا مي خپله فيصله دي
شپه هم د برات سپوږمي دى څوارلسمه
له وخته ستا له ما سره جا نا نه وعده دي
پا لنګ د پا سه دواړه به قصي سره وکړو
ستا هره خبر داکتر «مل» ته ډير خوږه دي

**** کريفلد جرمنى 2020-03-15

## دميني جذبه

څپيرى د فراق ستا په مخ چي مي خوړلي
له هغي ورځي هوسا مي بيا هيڅ نه دى ليدلي

کودر خواته چي تللي هغه وخت مي يادیږي
په نا ز اونزاکت چي ځما خواته دی کتلي
ګدا سترګي ځما نه مرید ل ستا له دیداره
د مخ پلوشي دی چي په سترګو مي ولويدلي
د میني په څپو کي یو اوبل ته مو کتلی
په رمز او ا شارو دمیني دواړو پوهید لي
د میني جذ به کي دواړه ناست په انګار وو
حیا او شرم دواړه مو له ذهنه وه ایستلي
هغه ورځ بیابه کله ځما د«مل» نصیب شي
چي ستا دیدار ته بیا په حضور دی رسید لي

****

کریفلد جرمنی 2020-03-15

## څه تیریږي

له خولی مي بی اختیاره ستا په یاد اوسیلي خیژی
بیلتون کي دی بیواکه ترمي اوښکي مي تویږي
له سترګومي خوب تلي اړخ په اړخ بسترکی اوړوم
د هجر توره شپه پر ما هیڅ نه سبا کیږي
د ستا په فراق کی نه اومه مخکي هیڅ بلد
خپګا ن سره له سترګو مي اوښکي نه وچیږي
تر څو چي له سفره جا نا ن بیرته را ګرځي
د ستا په جدا یی کي پر ما «مل» به څه تیریږي

****

کریفلد جرمنی 2020-03-15

## انتظار

کودر ته راغلم ته رانغلي په انتظار پاتي شم
ستا د لید و په هیله ډیره نا قرار پا تي شم
هر ما زدیګر کودر په لاره مولید له سره
ما چي ستالاره څارله سترګي په لارپاتي شم
لمر د غره شو ترشا له کودر لاړل پیغلي
په تررمي کي بی له تا ډیرغمګسار پا تي شم
ستا د راتګ دانتظار په لمبو وسوځید «مل»
ته چي رانغلی له خپل ژونده مل بیزارپاتي شم

**** کریفلد جرمنی 2020-03-16

## پټ که

ما د زلفو تر حلقو لاندې دې پټ که
راته وګوره په مینه نور ته ښت که
د فراق تنده مې ما ت پخپل دیدار که
شرنګ مې غوږ ته د بنګړو د خپلې مټ که
یمه ډیره خپه شوې ستا خوږې خوږې قصې ته
راشه (مل ) ته مرکې خپل پا س په کټ که

**** کریقلد جرمنی 2020-03-17

## پلو

پلو له مخې لیرې که چې وګورم دې خال
چې ولویږي نظر مې ستا په حسن وجمال
مشکین زلفې خورې ورې دې په اوږه که
چې راوړې شمیم یې څما پخوا نرې شمال
د شونډ و په مسکا سره د نیا مې بد ل که
په مینه راته وګوره هروخت او هرمهال
دخپل حسن اوجمال په لیدو«مل»سیراب که
له زړه مې په خندا سره لیرې که ملال

***** کریفلد جرمنی 2020-03-20

## دلربا دې

اورین مینه یې ویلې کړم هغه څومره بې پروا دي
همتا نه لري خوبان کي څه ښکلې د لربا دي
هم ترسکوني اننګي یې هم ښا یسته خال دتندي یې
سرې شونډې توري سترګي څه دلکشه خوشنما دي
د خپل و حسن او جمال د استغنا په تا ل زنګیږي
د غرور په نیلي سپور څه مغرور اوبې همتا دي
په ادا او کرشمو ویده زړونه ویښوې «مل»
هرکا ته سره همیش په سرو شونډ و یې خندا دي

**** کریفلد جرمنی 2020-03-22

## میکدی ته

ته څه شیخه کعبی ته زه ورځمه میکدي ته
ته سرکیږده سجدی ته زه لاس وروومه ډک پیا لي ته
ته څه خپله مناجا ت که دایمان تینګ درجات که
زه به سترګي غړومه د جانا ن نا ز اونخري ته
زه د هجر تول ناخوالي په نیشو کي هیرومه
د رندانو سره هروخت یوځای ځمه میخانی ته
ما ته ژوند بی له میني د اوبو پرسر حباب دي
«مل» په مینه غوږ نیولي دعشقي آهنګ نغمي ته

******

کریفلد جرمنی 2020-03-22

## رناکه

له مخ کړ پلو لیري وصال یی خپل وریا کړ
د سپین مخ په شغلو یی تیاره پرما رنا کړ
مسکی مسکی مي خواته په مینه وکتله
د سترګو په اشارو یی د مینی راز افشاکړ
ما هیڅ نه انګیرل چي هغه به مي یار شي
نا هیلي مي په هیلو بدله په ریښتیا کړ
د میني ډیوه یی د «مل» په زړه روښان کړ
په مینه ځما غمونه له سره په بید یا کړ

******

کریفلد جرمنی 2020-03-22

## پارول

په سوله اوپه جنګ کي هدف ستا نازیدل دي
مسکا ستا د شونډو عامل د زړه وړل دي
بازار دښکلا کی ستا څه جمع و جوش دی
د سترګو په کتو دی لار مینی ته ایستل دي
دستا ناز اوادا کي یوڅه پټ راز پروت دي
د زړونو را کاږل او د سترګو جلبول د ي
ما ستا په شا ن نا زی صنم نه وه لیدلي

په ناز اوپه کتو ستا په زړه  اور لګول دي
خبر اوسه چي «مل» بی  تا ډير ناقراردي
دستا په ليدو مي په زړه  ګوري ماتول دي

******
کريفلد جرمنی 2020-03-22

## اولی او اخری

جلوی سره مسکا دی رضايت ستا ديا ری دي
ځما  هم  مينه  تا  سره  له  ډيره  پخواني دي
ما زړه کي رازدميني ستا له مخکی وه ساتلي
ستا مينه کي بريا مي  د زړه   رازداري  دي
هغه پټ راز غواړم چي تا ته   نن  افشا کړم
سکروتی ستا د ميني مي د زړه په نغري دي
دا «مل» چي تا ته هروخت په مينه ځير کتل
د تا سره  يی  مينه  اولی  او  اخری  دی

-*****
کريفلد جرمنی 2020-03-22

## نوبهار

يخ   سيوری  د  چنا ر نسيم  د نوبها ر
بلبل  د  ګل  په  مينه  په بڼ لرل چغار
شبنم دګل له پا نوڅخيده څاڅکي څاڅکي
د بڼ  کنج  او  کنا ر   په  ګلو  وه ګلزار
هوا  څه  خوشګوار  وه شرشر دآبشاروه
شميم  د نا رنج ګل وه   ميله  په ننګرهار
ګودرکي جوړ ميله وه دمستو ښکلو پيغلو
هرښکلي پاس په وربل ګل ايښی وه قطار
«مل» هغه پسرلي بيا نه راځی وطن کی
خندا  د  پيغلو ورک شو غمونه شو بسيا ر

*****
کريفلد جرمنی 2020-03-24

## بهار راځي

ته چي راځې پر ما بها ر راځي
زړه ته نژدي مي غمګسار راځی
غم می له زړه نه په دیدار ورکوي
هغه ځما چي خوږ دلدار راځي
نور د بیلتون ورځي نه شمیرومه
جانان تر څنګ مي په اختیا ر راځي
اوس نیکمرغي دی په برخه شو «مل»
چي ستا د خوښي ګلعذار راځي

****

کریفلد جرمنی 2020-03-23

## دچنار ېه ېه

په ډېه د چنا ر ما چي ستا نوم را کیند لي
په لاره د ګودر کي ما ستا لاره څارلي
هغه وخت مي یادیږي هیڅکله مي نه هیریږي
چي ما تا ته کتلي ته له نازه شرمید لي

*

په دیدار یو د بل سره هیڅ نه مړید لو
په اشا رو د سترګو دواړه سره مینه مو کولو
د شرم او د حیا سره دواړه بیګانه وو
د مینی په څپو کي سره دواړه خوځیدلو

*

مقیا س مو د میني هیڅ نه اندازه کیدل
خبری او مرکي مو بیا زر نه ختمید ل
له ځان او له ماحوله سره دواړه بی خبر
ګرمي مو د میني سره نه هیڅ سړید ل

*

ځواني بی پروایی وو دمیني زور زیاتي وو
ریا په مینځ کي نه وه رینتیني عاشقي وو

يو بل نه جاريدلو ښه په مينه پوهيدلو
د مينې اندازه مو په زړونو طوفاني وو

*

يو بل مو ښكلولو خوړ وخت مو تيرولو
له چا نه شرميد لو يوبل ته رسيد لو
د مينې لمبه په رګو مو ګرځيدل
يو بل ته مو قصې د خپل مينې كولو

*

بيلتون سره جدا كړو غمو كې مبتلا كړو
ته يو خوا اوزه بل خوا په اوښكو او واويلا كړو
زه «مل» ها وختونه وخت نا وخت يادوم
چي ما درته كتل او ته را ته خندلي

****** كريفلد جرمنی 2020-03-25

## شور دميني

هسې شور د اورين مينې دی مې زړه كې اچولې
چې بيلتون نه دی مې غږ ترآسما نه رسيد لي
ته چې مخې ته مې راغلې ما ويل همدا برخه مې تاكې
هغه ځما وړاند وينې هسې وشو چې ما وه ويلې
په ليد و دی مې زړه ستا د مينې كوربه شوو
ستا د نا ز په ابا سين كې تول صورت مې ولويدلې
«مل» د ژوند برخه ليک ستا په اختيار كې اچولې
ما د ستا نا ز او نخرې يا ر په ليمو خپل منلې

**** كريفلد جرمنی 2020-03-26

## يادوم

په خيا ل كې دی ليد و ته محلونه لتوم
ستا د زلفو په تا لونو خپل خيا لونه زنګوم
نه هيريږی مې ستا ښكلې په كاجل سترګې توری
ميكدی كې ستا په ياد ډک جامونه تشوم

هغه ستا د پیغلتوب استغنا مي را یا دیږي
د هغي شیبې په یاد تیر وختونه یادوم
له خپل ځان او له ماحوله بیخبر ته مي په یاد
په هنداره د خپل ذهن ستا انځورونه اچوم

******* کریفلد جرمنی 2020-03-29

## تغافل

د ستا د تغا فل نخرو په اور کي سوځیږم
چي نه سا تي پروا مي له دی غمه ژړیږم
زړه ځما په واک کي نه دي ستا دنازلمبو کي سوځي
بیلتون کي دی بی اختیاره لکه موم په شان ویلیږم
د ستا د کرشمي هغه جلوی مي تل یادیږي
په حسرت د ستا د وصال پخپل اوښکو لمدیږم
بی تا مي زغم نه کیږي د زړه راز مي واوره
زه «مل» ستا یا راني ته په تلوار کي اوسیږم

***** کریفلد جرمنی 2020-03-31

## نه دی بخښلی

دا ورځی هم به تیر شی چي نورورځو تیر شوي
جدا له تا خپیږي د هجران مي په مخ خوړلي
بی ستا له دیداره بل مي هیله نه لرله
د ستا په غیا بت کي می انځور ته دی کتلي
زړه ځما ستا وصا ل ته په تلوار هوسیدل
د ستا د هجر ورځی په ژړا مي تیرولي
تا هم خپل حضور ته دی هیڅ ونه غوښتلم
خپل یاد کي دی ساته چي «مل» تا نه دی بخښلی

***** کریفلد جرمنی 2020-04-01

## ونه لیدل

که ما سره دی مینه په رضا خپل کول
ما هم ستا مینه په بل ښکلی هیڅ نه بدلول
دوکه دی راته راکړه دتا میني ته زړه نه وه

ما کله چې د ستا داستا ن د میني ولوستل
زه هسي ډیر ساده اوم چي پر تا مي باور وکړ
خبر نه اوم چي ما ته دی دوکه ورکول
نورنه دی یادوم که هم پر«مل)» سخت تیرېږي
ستا مینه می خپل ځا نته تر اخر ونه لیدل **** 01-04-2020

## پیمخي

ځما په سترګو ښه پیمخي ښکاري
مسکا په شونډ و ښه مونسي ښکاري
مفته دی زړه له ما نه ندی ورلي
نژدي مي زړه ته ډیر مخلصی ښکاري
زه مینه ستا په بل چا نه بدلوم
سترګي خماری ډیر ګلرخی ښکاري
ما (مل) خیل ځان در سپارلی جانان
ځکه چي ته ما ته یو مخي ښکاري

*******

کریفلد جرمنی 2020-04-01

## رازدمینی

ما د زړه خپل راز ستا ریبا ر ته وه ویلي
دا چي ما پرتا له وخته یاره زړه وه بایللی
داريد م چي په ویلو به له ما مرور نشي
ځکه رازمی پخپل زړه کی هسی پټ وه ساتلي
ته هم نه وی باخبر تر ننه ورځ په دی راز
ما چي ځیر درته کتلی ته هم نه پوهید لي
ته د«مل» ډیر خوښید لی دهرورځ په تیریدو
ها چي ما درته هروخت هسی ځیر ډیر کتلی

*******

کریفلد جرمنی 2020-04-02

## وژړله

استا ذی د وصا ل دی ځما په حا ل وژړید له
ځما چي سوي رنګ ته له نژدی را وکتله

بل ښا ر ته د سفر ستا پیغام وه راوړي
ځما چي حا ل یی ولیده ما ته څه ونه ویله
هغه پرما شو پوه چي ته مي ډیر خوښیږي
چي ځا نته ځما له خوا درنا وی ډیر ولیدله
د (مل) له حا له تا ته به هرو مرو څه وایی
که چیری ته یوځلي دی ځما پوښتنه تری کوله ******* 03-04-2020

## الول وی

په ګوتو زلفی مه راتاوه وه پریږدی چي الول وي
په شونډو دی مسکا ، ګل قطار دی په وربل وي
په ناز راته ګوره توری زلفی دی خوری که
ګودر په لوری راشه چي مي پل ستا په پل وي
درخواست مي توقي مه ګڼه له زړه می پاځیدلي
ځما مینه ریښتیا دي هسي نه چي پکي چل وي
اخر به ځما د میني اندازي درته معلوم شي
که ستا نظر یوځلي بیا په لوری د «مل» وي

*********
کریفلد جرمنی 2020-04-03

## دمینی اور

لاس نه می رسی تا ته چي ودی نازوم
له ملا دی کړم لاس تا وو زلفی ودی بویوم
یخ شونډی خپل پاس په ګرم شونډو دی کیږدم
په مینه مینه غیږ کی خپل ودی را کاږم
د تا سره د میني خپل قصي کړمه بیان
د مینی خوږ قصي ته پام ودی ګرځوم
سرکیږدم په زنګون دي زه«مل» ستا په رضا
د سترګو ځیر کتو سره بیا ودی پا روم

*****
کریفلد جرمنی 2020-04-04

## ډالي

دا هسې مخامخ چې تا   په ناز  وکتل ماته
نو ځما به څه کمي وي چې زړه ورنکړم تاته

*

تا  ما  ته   دزدا نه  په  مينه  وار  په  وار  کتل
پرتا  چي  مي  نظر  کيده  له  ورايه دی خندل
نو  ځکه  سترګي ځما هم واوړيد له ستا خواته
نو ځما به  څه کمي  وی چي زړه ورنکړم تاته
*
رګوکی  می  کتو  سره  دی  بلی  لمبي  کړ
د شونډو  بوسی ته دی  مي ډيره   تلوسي  کړ
په ناز دی بسمل کړم مخ چی دا واړول شا ته
نو ځما به څه کمي وي چي زړه ورنکړم تا ته
*

د تا سره د ميني  راز  مي  اوس ا فشا  شوي
د کلي د ټول خلکو  په مينځ کي  رسوا شوي
چی  تا  هم  کړ ډالي ادا  «مل» ته  په  کراته
نوځما به څه کمي وی چي  زړه ورنکړم تاته

********   کريفلد جرمنی  2020-04-04

## نه پوهيږم

زه  د  چا  په  اور  د  ميني   کي  سوځيږم
چي  پر  چا  می  زړه  ورکړي نه پوهيږم
يو نا څاپه   په  ادا   له  مخ  مي  تير شو
نيمرخ  وکتل ما ته، اوس کتوپسي هوسيږم
بيا   د   هغي  انځور  په  ذهن  مي  رانغي
يو  رويا   وه   چي   هغي   ته   نه رسيږم
دومره  ياد  مي شي  چی ډيره  بی پرواوه
يا دوومه يی هر وخت «مل» ديره ژړيږم

****   کريفلد جرمنی 2020-04-05

## جانان

*د اوښکو په باران سره مي لوند شو ګریوان*
*د ستا هم سخته زړه پر ما نشو مهربان*
*هیڅ و دی نه انګیرله چی ځماهم ته خوښیږي*
*اوږده دی کړ پرما ترخي ورځي دهجران*
*نمجن سترګي ځما تل ستا لاره څارلي*
*هروخت را یادوم په کاجل دی تورچشمان*
*بیلتون کی دی مي نور څه زغم پا تي نه دي*
*بیا کله د«مل» سترګي پرتا ولویږي جانان*

کریفلد 2020-04-07